مصطفی پسرلی
۲۰۲۰/۰۲/۱۹

# غزل

له جنګ ستومانه یم، دمه غواړمه
له غم پریشانه یم، دمه غواړمه

څلور لسیزې مې خوراک شوې د اور
مرم بې درمانه یم، دمه غواړمه

د پردو ګټې مې په دار ځړوي
وینه آرزانه یم، دمه غواړمه

اور مې په تن شولو د خپلې لمن
تنګ له خپل ځانه یم، دمه غواړمه

ډېر وځپلم د نړۍ هر ظالم
مظلوم بې شانه یم، دمه غواړمه

پسرلی ویني هره ورځ جنازې
ډک له خفګانه یم، دمه غواړمه

مصطفی پسرلی
18/02/2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ